

# شانِ رفاعی

پښتو

پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیۃ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# شانِ رفاعي

دعائے عطّار: يا الله پاكه! څوك چې دا رساله ''شانِ رفاعي'' اولوَلي يا ئې واوري هغه ته د امام احمد كبير رفاعي بركتونه نصيب كړې او بے حسابه بخښنه ئې نصيب كړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دَ دُرود شريف فضيلت

د الله پاك د آخِري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: ''بے شكه ستاسو نومونه سره د پيژندګلو ما ته پيش كيږي لِهٰذا په ما باندې اَحسن (يعني په ښكلو الفاظو كښې) دُرود شريف وائې.'' (مُصنّف عبدُ الرّزاق ج۲ ص۱٤٠، حديث ۳۱۱٦، دارالكتب العلمية بيروت)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ووه [7] اولياء كِرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ عَلَيْهِم اَجْمَعِين ووه خوشخبرئ

يو وړوكے او ښكلے ماشوم د الله پاك د نيكانو بَندګانو په خواه تيريدلو نو هغه بُزرګانو هغه ماشوم ته اُوكتل. په هغوئي كښې يو بُزرګ كلمه طيبه لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ الرَّسُوْلُ الله اُووئيله او اُوئې فرمائيل: هغه بابَركته ونه ښكاره شوي ده، دويم اُوفرمائيل: د هغه ونې نه به ډير خاخونه زرغونيږي، دريم اُوفرمائيل: په لږ وخت كښې به د هغې سورے ډير اُوږد شي، څلورم اُوفرمائيل: په لږه موده كښې به د هغې ميوه ډيره شي او سپوږمئ به روښانه شي، پينځم بُزرګ اُوفرمائيل: څه موده پس به خلق د هغوئي نه د كراماتو ظُهور وِيني او ډير زيات به د هغوئي طرف ته مائله كيږي، شپږم اُوفرمائيل: لږه موده پس به د هغوئي شان او عظمت اوچت شي

او نښې به ترينه ظاهرې شي، ووم اُوفرمائيل: د هغوئي په وجه به د ګناهونو ډيرې دروازے بندې شي؟ او ډير خلق به د هغوئي مُريدان شي. (جامع كرامات الاولياء،ج١،ص٤٩٠، مركز اهلِسنّت بركاتِ رضا هند)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د الله پاك بيشميره احسانونه دي چې زمونږ په زړونو كښې ئې د اَولياء كرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ عَلَيهِم اَجمَعِين محبّت پيدا كړے دے- اوس چې د كوم نيك او باكرامته ماشوم ذِكر اوشو هغه بل څوك نه وو بلكه د سِلسِله رفاعيه عظيم پيشوا حضرتِ سيّدنا مُحيُ الدّين سيّد ابو العباس احمد كبير رفاعي حسيني شافعي رَحمَةُاللهِ عَلَيه وو هغوئي د رسولِ اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نمسي حضرت سَيِّدُنا امام حسين رَضِيَ اللهُ عَنهُ په اولاد كښې وو. (سيرت سلطان الاولياء ص٢٢ ملتقطاً،وغيره الزاوية الرفاعيه كراچي)

**راځئ!** چې د بَركت حاصلولو د پاره د هغوئي ذكرِ خير وَاورُو: حضرت سيدُنا سُفيان بن عُيَيْنَه رَحمَةُاللهِ عَلَيه فرمائي: عِندَ ذِكْرِ الصّٰلِحِينَ تَنْزِلُ الرَّحْمَةَ. يعني د نيكانو خلقو د ذِكر په وخت كښې رحمت نازليږي. (حِلية الاولياء ج٧ ص٣٣٥،رقم،١٠٧٥٠،دار الكتب العلمية بيروت)

## دِيدارِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّم او خوشخبري

د هغوئي رَحمَةُاللهِ عَلَيه د پيدائش نه 40 ورځې مخكښې د هغوئي ماما حضرت سيّدُنا منصور بطائحي رَحمَةُاللهِ عَلَيه ته په خوب كښې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو، چې د دواړو جهانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: اے منصور! 40 ورځې پس به ستا خور كره يو ماشوم پيدا كيږي د هغه نوم احمد كيږده او چې كله په ښه بد پوهه شي نو د تعليم د پاره ئې شيخ ابو الفضل علي قاري واسِطي (رَحمَةُاللهِ عَلَيه) له اُوليږه او د هغه د تربيّت نه كله هُم مه غافِله كيږه. د دې خوب نه پوره 40 ورځې پس حضرت سَيِّدُنا احمد كبير رفاعي رَحمَةُاللهِ عَلَيه پيدا شو. (طبقات الصوفية للمناوي ج٤ ص١٩١،دار صادر، بيروت)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د ماما په تَربِيّت کښې

هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د ووه [7] کالو په عمر کښې قرآنِ پاك حِفظ (يعني زباني ياد) کړو، په دغه کال د هغوئي والدِ محترم د څه کار په سِلسِله کښې بغداد شريف ته تشريف يوړو او هم هلته وفات شو. د خپل پلار د وفات نه پس د هغوئي ماما شيخ منصور رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه او د هغوئي مور خپل ځائے ته را اُوبلل د پاره د دې چې په خپله سرپرستئ کښې د هغوئي د ظاهري او باطني تعليم و تربيّت سِلسِله جاري اُوساتي، قرآنِ پاك خو هغوئي د مخکښې نه حِفظ کړے وو لهٰذا څه ورځې پس حضرت شيخ منصور رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حکم مطابق واسِط ته د حضرت شيخ علي قاري واسطي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خدمت کښې د عِلم حاصِلوَلو دپاره اُوليږلو، شيخ علي قاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د هغوئي په تعليم و تربيت باندې خصوصي توجّه ورکړه. د اُستاد صاحب د پوره شفقت او د خُدائے ورکړو صلاحيتونو په نتيجه کښې سيِّد احمد کبير رفاعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه صرف د شلو کالو په عمر کښې تفسير، حديث، فِقه، معاني، منطِق و فلسفه او ټول مُرَوَّجَه علومِ ظاهري حاصل کړل، او ورسره د خپل ماما شيخ منصور بَطائحي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه ئې علومِ باطني حاصِلول هُم شروع کړو، او د الله پاك په رحمت ئې ډير زر په علومِ باطني کښې کمال حاصِل کړو. (سيرتِ سُلطان الاولياء ص٤٥تا٤٦، ملخصاً، وغيره)

# د سجاده نشينئ واقِعه

کله چې د سَيِّدُنا شيخ منصور رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د وفات وخت رانزدې شو نو خپلې بي بي ورته عرض اُوکړو چې د خپل ځوئ د خلافت د پاره وصيّت اُوکړئ، شيخ منصور رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اُوفرمائيل: نه بلکه زما د خوَرَئِي احمد د پاره د خِلافت وصيّت دے، چې

کله ورته بي بي ډيره زاري اُوکړه نو هغوئي خپل خَورَئے امام رفاعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه او ځوئي را اُوبلل او دواړو ته ئي اُوفرمائيل: لاړ شئ او د کجورې پاڼړې راوړئ، ځوئي ئي ډيرې پاڼړې راکتې کړې او رائي وړې خو سَيِّدُنا امام رفاعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه يوه پاڼړه هم را نه وړه، چې د وجهې تپوس ئي ترينه اوکړو نو د حِکمت نه ډَك جواب ئي ورکړو، هغه دا چې: ما چې اُوکتل نو هره پاڼړه د **الله** پاك تسبيح بيانَوي، په دې وجه ما يوه پاڼړه هم کتې نه کړه، دا جواب ئي چې واوريدو نو حضرت شيخ منصور رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مُسکے شولو او خپلې بي بي ته ئي اُوکتل او اُوئي فرمائيل: ”ما هم ډير ځله دا دُعا کړې وه چې زما خليفه زما ځوئ شي، خو هر ځل راته دا اُووَئيلے شو چې ستا خليفه به ستا خَورَئے وي.“ لهٰذا د 28 کالو په عمر کښې سيد احمد کبير رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د خپل ماما نه خِلافت مِلاو شو او په هم هغه کال شيخ منصور رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه وفات شو. (بهجةالاسرار ص۲۷۰ وغيره. دار الکتب العلمية) **د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.** اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دَ نوافِلو کثرت

هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به روزانه 400 رَکعته نفل کول او په هغې کښې به ئي زَر ځله سُوْرَةُ الْاِخلاص وئيلو او ورسره به ئي روزانه دوه زره ځله اِستغفار هم وئيلو. (طبقات الصوفيه ج۲ ص۲۲۵)

عبادت میں گُزرے مِری زندگانی　　کرم ہو کرم یاخدایا الٰہی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! 　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د الله پاک په مخلوق باندې شَفقت

هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه به چې کله په نمر کښې روان وو او چرته ملخ به ئې په کپړو باندې د سُوري په ځائے باندې کښيناستو نو چې تر څو پورې به پاڅيدلے نه وو هغوئي به په هغه ځائے ولاړ اوسيدلو او فرمائيل به ئې چې ده زمونږ نه سورے حاصِل کړے دے. (طبقاتِ کُبرٰی للشعرانی جزء۱ ص۲۰۰ دارالکتب العلمیة بیروت)

## په سپي باندې رحم

يو ځل هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه د خارښت په مرض کښې اخته يو سپے اُوليدو چې هغه د کلي خلقو د کلي نه بهر ويستلے وو، هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه هغه ځنګل ته بوتلو او هلته ئې ورله يو چوپال ( يعني د نمر او باران نه د بچ کولو يوه چپره) جوړه کړه او خوراك به ئې ورکولو او د هغه د هر قِسمه خيال به ئې ساتلو تر دې چې د هغوئي د توجّه په نتيجه کښې هغه ښه شو نو په ګرمو اوبو ئې اُولامبولو او صفا سُتره ئې کړو. (طبقاتِ کُبرٰی للشعراني جزء۱ ص۲۰۰)

**خوږو او محُترمو اسلامي ورونړو!** د حضرت سيدنا احمد کبير رفاعي رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه په دې مبارك انداز کښې زمونږ د پاره ډير لوئ سبق دے، لهٰذا مونږ له هم پکار دي چې اِنسان خو انسان بلکه چې ځناورو سره هم بد سُلوکي نه کوو او هغوئي سره هُم ښه حُسنِ سُلوك کوو څه معلومه ده که زمونږه هُم دا عمل د الله پاك په بارګاه کښې قبول شي. او زمونږ د بخښنې او مغفِرت سبب جوړ شي.

د **الله** پاک آخري نبي **مُحَمَّدِ** عَـرَبِـي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د يوے فاحشې (بد کاره) ښځې مغفِرت صرف په دې وجه اُوکړے شو چې هغه د يو سپي په خوا تيريدله چې د کوهي په غاړه ئې د تندې په وجه زر زر ساه اخستله، نزدے وه چې د

تَندي د لاسه مړ شوے وے- هغه ښځې خپله موزه اُوويستله او په لوپټه پورې ئې اُوتړله او اوبه ئې راوښكلې او په هغه ئې اُوڅښلې نو هُم دا عمل د هغې د بخښنې سبب جوړ شو. (بخاري ج۲، ص۴۰۹ حديث ۳۳۲۱ دار الكتب العلمية بيروت)

## د جُذام دمريضانو او شَليانو خِدمت

د حضرت سَيِّدُنا احمد كبير رفاعي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه دا معمول هم وو چې د مريضانو او شلو خلقو خواه ته به تللو او هغوئي سره به ئې د همدردئ سُلوك كولو، د هغوئي جامے به ئې وينځلې، د هغوئي د سر او د ږيرې ويښته به ئې وينځل، هغوئي له به ئې روټئ وړله او هغوئي سره به ئې روټئ خوړله او د عاجزئ په طوَر به ئې هغوئي ته د دُعا هُم وئيل، چې كله به هغوئي د چا د بيمارئ نه خبر شو نو د هغوئي عيادت [تپوس] له به ورتللو اګر كه لاره به هر څومره اُوكږده وه او (كله كله به) په تلو راتلو كښې يو دوه ورځې هم اُولګيدلې، كله به داسې هم وو چې هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به په لارو كښې ولاړ وو او د نابينا خلقو اِنتظار به ئې كولو كه څوك به مِيلاؤ شو نو هغه به ئې خپل منزل ته رسولو. (طبقاتِ كُبرىٰ للشعراني، جزء۱ص۲۰۰ بتغيير)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د غريبانانو او بيمارانو خلقو خِدمت كول ډير د ثواب كار دے، **الله** پاك دِ توفيق راكړي چې د خپلو خوا و شا اُوسيدونكو عاشقانِ رسول مسلمانانو ګاونډيانو وغيره د هغوئي په تكليفونو او غمونو كښې پكار راشو. د الله پاك آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څوك چې د يو مُسلمان نه د دنيا په تكليفونو كښې يو تكليف لرې كړي الله پاك به د هغه نه د قيامت د ورځې په تكليفونو كښې يو تكليف لرې كړي او څوك چې په يو تنګ دَسته باندې په دنيا كښې آساني اوكړي الله پاك به په دنيا او آخرت كښې په هغه آساني

اوکړي او چې څوك د يو مسلمان په دينا کښې پردَه پوشي اُوکړي الله کريم به د هغه په دنيا او آخِرت کښې پرده پوشي اُوکړي او الله پاك د بنده په مدد کښې وي تر څو پورې چې بنده د خپل ورور په مدد کښې لګيا اوسي. (ترمذي ج٣ ص٣٧٣ حديث ١٩٣٧)

همیشہ ہاتھ بھلائی کے واسطے اُٹھیں
بچانا ظلم و ستم سے مجھے سدا یارب
رہیں بھلائی کی راہوں میں گامزن ہر دم
کریں نہ رُخ مرے پاؤں گناہ کا یارب

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په ماشومانو باندې شفقت

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د الله پاك نيکان بندګان د چا زړه نه خفه کوي چنانچه حضرت سَيِّدُنا امام احمد کبير رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ځل د يو څو ماشومانو په خوا تيريدلو چې هغوئي لوبې کولې، دوئی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ئې چې اُوليدلو نو د دوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د رُعب په وجه ئې منډې کړې، دوئي وريسې ورغلو او هغوئي ته ئې اوفرمائيل چې تاسو زما په وجه اُوېَريدلئ لهٰذا ما مُعاف کړئ او خپلې لوبې جاري ساتئ. (طبقاتِ کُبرٰی للشعراني جزء ١ ص ٢٠٠)

مرے اخلاق اچھے ہوں مرے سب کام اچھے ہوں
بنادو مجھ کو تم پابندِ سُنَّت یارسول اللہ!

(وَسائلِ بخشش (مُرَمَّم) ص ١٨٦، مکتبةُ المدينه کراچي)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په بُوډا ګانو باندې شَفقت

هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ به چې کله د ډېر عمر سړے اوليدلو نو د هغوئي د محلّے د خلقو خواه ته به لاړلو او هغوئي به ئې پوهه کول او دا حديث مبارك به ئې ورته اَورَولو چې: نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: خوك چې د بوډا مسلمان عزّت کوي **الله** پاك د هغه د بوډا والي په وخت کښې بل څوك د هغه په عِزَّت مقرر کړي.

(طبقاتِ کبرٰی للشعراني جزء ١ ص ٢٠٠، ترمذي ج ٣ ص ٤١١ حديث ٢٠٢٩ دارالفکر بيروت)

مشهور مُفسّر، حکيمُ الامّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د دې حديث پاك په شرح کښې فرمائي: چې کوم کس د بوډا سړي صِرف په دې وجه عزّت کوي چې د ده عمر زيات دے، د ده عبادت زما نه زيات دے، دا زما نه مخکښې د اسلام والا دے نو اِنۡ شَآءَاللّٰه هغه به په دنيا کښې اُووِيني چې د هغه د بوډاوالي په وخت کښې به خلق د هغه احترام کوي. او په دې وعده کښې فرمائيلے شوي دي چې د داسې سړي عمر به هُم زيات وي، په دنيا کښې به ورته مال، عيش او عزّت هم ميلاويږي او د آخرت اَجر [يعني ثواب] د دې نه علاوه دے.

(مراٰةُ المناجيح ج ٦ ص ٥٦٠، ضياءالقراٰن پبلي کيشنز لاهور)

## د مِسکينانو او کونډو مدد

هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ به چې کله د سفر نه واپسئ کښې خپلې محلّے ته نزدې شولو نو د سامان ترلو والا پړے به ئې را خلاص کړو او لرګي به ئې راټول کړل او په خپل سر به ئې کينبودل، نورو فقيرانو به چې هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ته اُوکتل نو هغوئي به هم داسې کول او چې کله به ښار ته داخِل شولو نو کونډو، مِسکينانو، شلو، بيمارانو،

رنډو، او بوډا ګانو باندې به ئې هغه ټول لرګي تقسیم کړل، هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه به کله هم د بدئ بدله د بدئ په ذريعه نه ورکوله. (طبقاتِ کبرٰی للشعراني جزء ۱ ص۲۰۰)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو اُوکتل زمونږ د بزرګانو د ژوند انداز به څومره ښائسته وو چې د څناورو سره به ئې هُم ښه سُلوك کولو، د بيمارانو عيادت [تپوس] به ئې هُم کولو، د ضرورتمندو او پريشان حالو مدد به ئې هُم کولو، او د رنډو او بوډا ګانو سره به ئې هُم خير ښيګړه کوله او د هغوئي زړونه به ئې خوشحالول، غرض دا چې هغه بزرګانو به د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې فرمان باندې عمل کولو چې: خَيۡرُالنَّاسِ اَنۡفَعُهُمۡ لِلنَّاسِ يعني بهترين کس هغه دے څوك چې خلقو ته فائده اُوَرَسوي. (جامعِ صغیر ص ۲٤٦ حديث ٤٠٤٤، دارالکتب العلمية بيروت) څکه مونږ له هم پکار دي چې خپلو مسلمانانو ورونړو سره د خير ښيګړې او زړه ساتنې سُلوک کوو.

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسنّت، باني دعوت اسلامي حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د خير ښيګړې او زړه ساتنې متعلق فرمائي: د مسلمانانو د زړه ساتنې اهميّت ډير زيات دے. چنانچه حديثِ پاك کښې دي: د فرائضو نه پس په ټولو اعمالو کښې الله پاك ته خوښ [عمل] د مُسلمان زړه خوشحالَوَل دي. (مُعجمِ کبير ج۱۱ ص ۵۹، حديث ۱۱۰۷۹، داراحياء التراث العربي بيروت) واقعي که مونږ په دې کمزوري دَوَر کښې د يو بل غَمرازئ او خِدمت کښې مشغول شو نو ډير زر به د دنيا نقشه بدله شي. خو آه! اوس خو ورور د ورور سره جنګيږي، نن د مسلمان عزّت او څان و مال د مسلمان د لاسه بربادئ سره مخامخ دي. الله پاك دِ مونږ ته د نفرتونو ختمولو او د محبتونو زياتولو توفيق راکړي. (فيضانِ سنّت ج۱ ص۱۲٤٤، مکتبه المدينه کراچي)

مسلمان مسلمان کے خون پیاسا　ھوا وقت آیا عجب یا اِلٰہی
سبھی ایک ہو جائیں ایمان والے　پئے شاہِ عالی نَسَب یا اِلٰہی
اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# ماته زما عيب اُوښائې

يوه ورځ سيِّد احمد کبير رفاعي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د عاجزۍ په طور خپلو مُريدانو ته اُوفرمائيل: که تاسو په ما کښې څه عَيب ليدلے وي نو ماته ئې اُوښائۍ، يو مُريد اُودريدو او عرض ئې اُوکړو: يا سيّدي! په تاسو کښې يو ډير لوئې عيب دے، هغوئې ترينه تپوس اُوکړو: اے زما وروره! کوم يو عيب؟ هغه (هم د عاجزۍ والا جواب ورکړو او) عرض ئې اوکړو: زمونږ په شان (بد خلق) په خپل صُحبت کښې ساتل. دا چې ئې واوريدل نو ټول مُريدان په ژړا شُو او ورسره د هغوئې سترګې هم د اوښکو نه ډکې شوې او اُوئې فرمائيل: زه ستاسو خادِم يم، زه تاسو ټولو نه کمتر يم.
(طبقاتِ کُبرٰی للشعراني جزء ۱ ص ۲۰۱)

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! تاسو اُوکتل چې امام احمد کبير رفاعي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ به د وِلايت په عظيمه مرتبه باندې د فائز کيدلو باوجود څومره عاجزي او انکساري کوله. يقيناً د هغوئې په سيرتِ مبارکه کښې زمونږ د پاره بيشميره مدني ګلونه دي. خو دا هم ياد ساتئ چې عاجزي صِرف د **اللّٰه** پاك د رضا د پاره پکار ده ځکه چې دا عاجزي د عظيم ثواب او د درجاتو د ترقّۍ باعث جوړيدے شي. که څوك د رياکارۍ د پاره عاجزي کوي نو داسې عاجزي کول مصيبت هُم جوړيدے

شي. اميرِ اهلِسنّت، حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة د دروغو د عاجزئ نه د بچ کيدلو په ترغيب کښې په د "**72 نيک اعمال**" په رِساله کښې په نيک عمل نمبر 42 کښې فرمائي: آيا نن تاسو د **عاجزئ** د داسې الفاظو وئيلو په ذريعه چه هغه په زړه کښې نه وي د نِفاق او رياکارئ ګناه خو اونکړه؟ مَثَلًا داسې وئيل چه زه خو ډير کمتر يم، بيکاره يم وغيره او په زړه کښې داسې نه ګڼړي.

## د غوثِ پاك په فرمان ئې سر ښکته کړو

په بَهْجَةُ الْاَسْرَار کښې دي چې کله حضور غوثِ پاك شيخ عبدُالقادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قَدَمِىْ هٰذِهٖ عَلٰى رَقَبَةِ كُلِّ وَلِيِّ الله (زما دا قدم د هر ولي په څټ باندې دے) اوفرمائيل: نو حضرت سيّد احمد کبير رفاعي سر ښکته کړو او عرض ئې اوکړو: عَلٰى رَقَبَتِى (زما په څټ باندې هم ستاسو قدم دے) حاضرينو عرض اوکړو: مُبارکه! تاسو دا څه وائې؟ نو هغوئي ارشاد اوفرمائيل: په دې وخت کښې په بغداد کښې شيخ عبدالقادر جيلاني د قَدَمِىْ هٰذِهٖ عَلٰى رَقَبَةِ كُلِّ وَلِيِّ الله اعلان اوکړو او ما څټ ښکته کړو او د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حکم تعميل مې اوکړو. (بهجة الاسرار ص۳۳ ملخصاً)

اعلٰي حضرت، امام اهلِسنّت مولانا امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فتاوٰی رَضَوِيَّه جلد 28 صفحه 388 کښې د حضرت حضر موصِلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه واقِعه نقل کوي: هغه فرمائي چې يوه ورځ زه د حضرت غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دربار کښې حاضِر وُوم زما په زړه کښې خيال راغے چې د شيخ احمد رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ديدار اُوکړم، غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: آيا شيخ احمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليدل غواړې؟ ما عرض اوکړو: آو جي، حضور غوث پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لږ ساعت د پاره خپل سر مبارك ښکته کړو او بيا ئې ما

ته اُوفرمائيل: اے خِضر! هاں دا دے شيخ احمد رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه چې ما ځنګه اُوکتل نو زه د شيخ احمد رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په ځنګ کښې موجود ووم او ما اوليدلو چې يو رُعب داره کس دے زه اُودريدلم او هغوئي ته مې سلام اوکړو، په دې باندې شيخ احمد رفاعي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ما ته اوفرمائيل: اے خِضَر! څوک چې شيخ عبدُالقادر جيلاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه اُوويني چې هغوئي د ټولو اولياؤ سردار دے نو هغه کس زما د ليدلو خواهش ولې کوي؟ زه خو د هغوئي د ماتحتو نه يم، دا ئې اوفرمائيل او زما د نظر نه غائب شو بيا د حضور غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د وصال نه پس د بغداد شريف نه د حضرت سيِّدِي اَحمد رَفاعي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه زيارت ته امّ عُبيده [يعني حضرت حضر موصِلي] لاړلو چې هغوئي ئې اوليدلو نو هُم هغه شيخ وو چې په هغه ورځ ئې د شيخ عبدُالقادر جيلاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په خواه کښې ليدلے وو. [هغوئي وائي چې] د هغه ورځې ليدلو ما ته د مخکښې نه زيات د هغوئي شناخت رانکړو [يعني څه بدل را ته ښکاره نه شولو]. حضرت احمد کبير رفاعي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه را ته اوفرمائيل: اے حضر! آيا مخکښې (دِيدار) کافي نه وو؟

## امام رفاعي او اوليائے امّت

د امام احمد رفاعي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په عظمت او رِفعت او قدر او منزِلت باندې د ډيرو لويو لويو بُزرګانِ دين ملفوظات موجود دي راځئ چې د هغوئي نه د درې بزرګانو ملفوظات اولولو.

﴿1﴾ چا د غوثِ اعظم شيخ عبدُالقادر جيلاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نه د امام احمد رفاعي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه متعلق تپوس اوکړو نو ارشاد ئې اوفرمائيل: د هغوئي اخلاق د سر نه ښپو پورې د شريعت او د قرآن و سنّت عين مُطابِق دي او د هغوئي زړه د الله رَبُّ الۡعِزَّت سره

مشغول وي. هغوئي هر څه پريښودل نو هر څه ئې حاصل کړل (يعني د رضائے اِلٰهي د پاره ئې د کائنات هر څه پريښودل نو ربّ تعالیٰ ئې اوموندلو او چې ربّ ميلاو شو نو هر څه ميلاو شو.) (سيرتِ سُلطانُ الاولياء ص۲۰۰ ملخصاً)

﴿۲﴾ ولي كبير حضرت سيدُنا ابراهيم هوازِني رَحمَةُاللهِ عَلَيه فرمائي: زه د سيد احمد كبير رفاعي رَحمَةُاللهِ عَلَيه څه تعريف كولے شم. د هغوئي د بدن هر ويښته يوه ستركه جوړه شوي ده چې د هغې په ذريعه هغوئي ښي او كڼ طرف ته او مشرق او مغرِب هر طرف ته ګوري. (سيرتِ سلطان الاولياء ص۲۰۰ ملخصاً)

﴿۳﴾ اعلٰي حضرت امامِ اهلِسنّت رَحمَةُاللهِ عَلَيه فرمائي: د هغوئي شمير په اَقطابِ اربعه كښې كيږي يعني په هغه څلورو كښې كوم چې په ټولو اَقطابو كښې اعلٰي او ممتاز ګڼړلے شي. وړومبے حضور غوثِ پاك، دويم سيد احمد رفاعي، دريم سيد احمد كبير بدوي، څلورم سيد ابراهيم دُسوقي رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالیٰ عليهم.

## په دُنيا كښې د جنّتي محل ضمانت

يو ځل حضرت سَيِّدُنا امام احمد كبير رفاعي رَحمَةُاللهِ عَلَيه د خپل مُريدِ خاص حضرت سيدنا جمال الدين رَحمَةُاللهِ عَلَيه په خواهش باندې هغوئي سره د هغوئي د پاره يو باغ اخِستلو د پاره لاړلو نو د باغ مالك شيخ اِسماعيل ورته اُووئيل كه ما ته د دې باغ په بَدله كښې زما د خواهِش مطابِق څيز ملاو نه شي نو زه دا باغ نه خرڅوَم، هغوئي رَحمَةُاللهِ عَلَيه ورته اُوفرمائيل: اووايه ته د دې باغ څه قيمت اخلې؟ هغه اُووئيل: يا سيّدي زه د جنّت د محل په بدله كښې دا باغ تاسو له دركولے شم، هغوئي اوفرمائيل: زه څوك يم چې ته زما نه د جنّت محل غواړې؟ زما نه چې د دنيا څه څيز غواړې نو اوغواړه. هغه اووئيل: ما ته د دنيا څيز نه دے پكار. هغوئي رَحمَةُاللهِ

عَلَيْه سر ښکته کړو، د مخ مبارك رنګ ئې زيړ شو لږ ساعت پس ئې سر پورته کړو نو زيړوالے په سُور والي کښې بدل شو . او بيا ئې اوفرمائيل: اسماعيل! تا چې څه غوښتي وو د هغې په بدله کښې ما ستا نه دا باغ واخستو. هغه عرض اوکړو: يا سيدي! دا خبره ماته ليکلې راکړئ. هغوئي په يو کاغذ باندې د بِسْمِ الله ليکلو نه پس دا عبارت اوليکلو. دا هغه محل دے چې دا اسماعيل بن عبدالمُنعِم د فقير حقير بنده احمد بن ابو حسن رفاعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه اخستے دے چې د دې ضامن حضرت علي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ دے، د دې حُدُودِ اربعه دا دي چې يو طرف ته ئې جنّتِ عدن دے او دويم طرف ته ئې جنّتِ مأوٰى دے، دريم طرف ته ئې جنّتِ خُلد او څلورم طرف ته ئې جنّتِ فردوس دے، د هغه ځائے ټولې حُورې او غِلمان، قالين، ساز و سامان، نهرونه او ټولې ونې په دې سودا کښې شامِلې دي دا محل د اسماعيل د دنياوي باغ په بدله کښې دے، الله پاك د دې خبرې شاهد و کفيل دے.

بيا ئې هغه كاغذ راټول کړو او شيخ اسماعيل ته ئې حواله کړو. شيخ اسماعيل هغه لِيک واخِستو او د خپلو بچو خواه ته ورغلو او هغوئي ئې اُوفرمائيل: ما دا باغ په سيد احمد کبير رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه باندې خَرڅ کړو، بچو ورته اووئيل: دا تاسو ولې خرڅ کړو حالانکه مونږ ته د دې ضرورت وو؟ نو هغوئي ورته د جنّتي محل واقعه بيان کړه. بچو ورته اووئيل: مونږ به هله راضي کيږو چې په دې کښې مونږ هم شريك شو، هغوئي اُوفرمائيل: هغه زمونږ د ټولو محل دے. بيا ئې هغه باغ سَيِّدُنا جمال الدين رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته حواله کړو. څه وخت پس اسماعيل وفات شو. ولې چې هغوئي په دنيا کښې خپلو بچو ته دا وصيت کړے وو چې دا ليک زما په کفن کښې کيږدئ، لهٰذا بله ورځ د هغوئي په قبر باندې دا ليکلي شوي وو "قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا"

(يعني مونږ ته ملاؤ شو هغه، کومه ريښتوني وعده چې زمونږ رب زمونږ سره کړي وه ). (جامع کراماتِ اولياء ج١ ص ٤٩٢، ملخصاً)

## کڼړو به هم کلام اوريدلو

د حضرت سيد احمد کبير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عادتِ مبارکه وو چې په ناسته باندې به ئې بيان کولو، د هغوئي آواز به لرې اوريدونکو هم هغسې اوريدو څنګه به چې نزدې خلقو په آسانئ سره اوريدو، تر دې چې اخواه ديځواه د محلّے خلق به په چتونو باندې ناست وو او بيان به ئې اوريدلو او هغوئي به يو يو لفظ ښه په آسانئ سره اوريدو، چې کله به کاڼره د هغوئي په بيان کښې کښيناستل نو د هغوئي غوږونه به الله پاك د بيان اوريدلو د پاره کولاؤ کړل- مشائخ د طريقت به حاضريدل او خپلې څولئ به ئې خوَرې کړې وے او چې کله به بيان ختم شو نو هغه حضراتو به خپلې څولئ سِينے ته لګولې او واپس به چه لاړل خپلو مُريدانو ته به ئې هغه ټولې خبرې بيان کړې. (طبقاتِ کبرٰی للشعراني جزء١ ص ١٩٩)

## د جهنّم نه د آزادئ پرچه

يو ځل د حضرت امام احمد کبير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دوه مُريدان د عبادت و رياضت د پاره په صحرا کښې موجود وو. په هغوئي کښې يو خواهش اُوکړو چې کاش! په مونږ باندې د جهنم نه د آزادئ پرچه نازِله شي، په دې کښې د آسمان نو يو سپين کاغذ را نازل شو، هغوئي چې را اوچت کړو او اوئې کتلو نو په ظاهره په هغې باندې څه عبارت ليکلے نه وو، هغوئي دواړو هغه کاغذ خپل پير و مرشِد [حضرت امام احمد کبير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه] له يوړو خو واقعه ئې ورته بيان نه کړه، هغوئي چې هغه کاغذ اوکتلو نو په سجده کښې پريوتلو، او بيا ئې سر را اوچت کړو او اُوئې

فرمائيل: د **الله** پاك شكر دے چې هغه ما ته په دې دُنيا كښې زما د مُريدانو د جَهنَّم نه د آزادئ پرچه اُوښودله. هغوئي ته عرض اُوكړے شو: مُباركه! دا خو صفا كاغذ دے، هغوئي اُوفرمائيل چې الله پاك د سياهئ محتاجه نه دے دا كاغذ په نور ليكلے شوے دے. (جامع كرامات الاولياء ج١ ص ٤٩٣)

## ملفوظاتِ احمد كبير رفاعي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه

﴿١﴾ خوك چې په ځان باندې غير ضروري خبرې لازِمې كړي هغه ضروري خبرې هم ضائع كوي.

﴿٢﴾ خوك چې دا خيال كوي چې زما اعمال به ما ربّ ته اُورَسَوي نو هغه خپله لاره ورَكه كړه. (د خپلو اعمالو په ځائے د الله پاك په رحمت باندې نظر ساتل پكار دي.)

﴿٣﴾ **الله** پاك غوث و قُطب په غيبو باندې خبرَوِي، پس چې كومه ونه هُم راخِيژي او پاڼړه شنه كيږي د هغه ټولو عِلم لري.

﴿٤﴾ خوك چې په الله پاك باندې تَوَكُّل كوي الله پاك د هغه په زړه كښې حِكمت داخِلوي او په هر مُشكل وخت كښې د هغه د پاره كافي وي.

﴿٥﴾ خومره خوشحاله كيدونكي داسې دي چې د هغوئي خوشحالي د هغوئي د پاره مُصيبت جوړه شي او خومره غمژن داسې دي چې د هغوئي غم د هغوئي د پاره د نجات باعث جوړ شي.

﴿٦﴾ افسوس دے په داسې كس باندې چې د دنيا په ميلاويدو باندې په دې كښې مشغول شي او چې بيرته ترينه واخستے شي نو ارمان كوي.

﴿۷﴾ د الله پاك سره د محبّت علامت [يعني نښه] دا ده چې د اولياءُالله نه علاوه د ټول مخلوق نه ئې ويره کيږي ځکه چې اولياؤ سره محبت الله پاك سره محبت دے.

## د هغوئي اولاد

هغوئي کثيرُالعيال [يعني ډير اولاد لرونکے] بزرګ وو، د هغوئي دولس صاحبزادګان [ځامن] او دوه لُونړه وے، په هغوئي کښې د څلورو ځامنو نه د هغوئي سِلسِلۀِ نسب جاري شوه. (شانِ رفاعي، ص ٣٦)

## د ژوند آخِرئ ورځې

د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه خادِمِ خاص حضرت يعقوب رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د وفات نه مخکښې سيّدي احمد کبير رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د اِسهال (يعني د خِيټې په مرض) کښې مُبتلا شو، يوې مياشتې پورې په دغه تکليف کښې مُبتلا وو. او شَلو ورځو پورې ئې نه څه خوړلي وو او نه څښلي وو، د ژوند په آخِري ورځو کښې به ئې ډير ژړل او خپل مخ او ګيره مبارکه به ئې په خاورو کښې مَږله او ژړل به ئې، او دا دُعا به ئې په خُله وه يا **الله**! مُعافي راکړې، ياالله! ما معاف کړې، ياالله! ما په دې مخلوق باندې د راتلونکو تکليفونو د پاره چت جوړ کړې. (طبقاتِ کبرٰی للشعراني جزء١، ص٢٠٢، بتغيير)

آخر دا چې 78 کاله په دې دنيا کښې ژوند تيرولو او د الله پاک د مخلوق د رُشد و هدايت د کار کولو نه پس ئې د زيارت په ورځ 22 جُمادَي الاُولٰي 578 هِجري بمطابق 13 ستمبر 1182ء د ماسپښين په وخت کښې د دې دُنيا نه د آخِرت په

طرف سفر اختيار کړو، د هغوئي د ژبې نه چې کوم آخِري کلمات ادا شوي وو هغه دا وو:

اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ

## د وصال نه پس حاجت روائي

حضرت شيخ عمر فاروثي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته ډير ځله د امام احمد کبير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار شريف ته د حاضريدلو سعادت حاصل شوے دے، يو ځل خو داسې هم اوشو چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مزار شريف نه په اوچت آواز زما د يو حاجت په باره کښې اوفرمائيل: لاړ شه! ستا حاجت پوره کړے شوے دے. (جامع کراماتِ اولياء، ج۱ ص۴۹۱)

د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائسته کښې کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نِیَّتونو سره ټوله شپه تیروئ ❁ د سُنَّتو د تربیَّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ






فیضانِ مدینه محلّه سوداگران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com